PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

هر څوک چې يو نفس د بل نفس له بدل څخه پرته يا يې له فساده په ځمکه کې ووژني نو گواکې ټول خلک يې وژلي دي او هر چا چې دغه يو نفس ژوندی کړي نو گواکې ټول خلک يې ژوندي کړي دي.

(المائدة: ۳۲)

درس حدیث

از ابو هریره رضی الله عنه روایت شده که:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: بهترین روزه بعد از رمضان ماه محرم خداست و بهترین نماز بعد از فریضه نماز شب است.

(ریاض الصالحین)

شهادت پنځم کال، ۲۸ مه گڼه، پرله پسې ۲۲۷ مه گڼه سه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د لړم ۲۱ مه د۱۴۳۵ هـ ق د محرم ۸ مه د۲۰۱۳ م د نوامبر ۱۲ مه

امریکا غواړي د لويې جرگې له لارې خپلې غوښتنې پر خلکو ومني

کابل، رسنۍ:
د افغانستان د مشرانو جرگې يو شمير غړي وايي، د مشورتي لويې جرگې، اجنډا، اداري هيات او غړي مخکې له مخکې ټاکل شوي او دوی له داسې چلند سره مخالف دي.
په افغانستان کې د لويې مشورتي جرگې را نږدې کېدو؛ له يوشمېر سياستوالو، کارپوهانو او د ملي شورا له ځينو غړيو سره يو لړ انديښنې پيدا کړي دي.
دوی وايي، دا جرگه امریکا او پلويانو يې مخکې له مخکې طرح کړې او غواړي چې، د خپلې خوښې - چې د دې جرگې له لارې خپلې کسان ورته وروبولي.
د دې جرگې په هکله د انديښنو دښودلو په لړ کې، د مشرانو جرگې غړي "عبدالحنان حق ويون" د دوشنبې په ورځ يوې خبري ناستې ته وويل؛ امریکا او پلويان يې غواړي چې د دې جرگې له لارې خپلې غوښتنې پر خلکو ومني.
ده وويل، د جرگې له دې ډول ترکيب او اجندا سره به دې او يو شمېر نور سناتوران مخالفت وکړي.
"زمونږ تشويش دا دی چې، دوی خلکو ته وفادار نه دي،...

(۴ مخ)

بریتانیا عساکر افغان را مانند افسران هندی و پاکستانی آموزش دهد

"حامد کرزی"

این اکادمی افسران اردو معادل اکادمی سن هارس بریتانیا بوده و در چوکات پوهنتون ملی دفاع افغانستان، فعالیت می کند.
(وزارت دفاع)

کابل، رسانه ها:
رییس جمهور کرزی ابراز امیدواری کرده است که استادان بریتانیایی در اکادمی افسران اردو، سربازان افغان را به مانند افسران هندی و پاکستانی آموزش بدهند.
وی این موضوع را به روز دوشنبه در محفل افتتاح اولین دوره تحصیلی اکادمی افسران اردوی افغان در کابل بیان کرد.
این اکادمی به کمک مالی بریتانیا ساخته شده است.
آقای کرزی می گوید که بریتانیا در آموزش نظامی پیش دست بوده و اگر از این کمک آنها به گونه درست استفاده شود،...

(ص ۴)

هشتاد حقوقدان به لویه جرگهء مشورتی دعوت شده اند

"امین"

کمیسیون برگزاری لویه جرگه مشورتی می گوید، پس از دریافت مسوده سند قرارداد امنیتی و دفاعی کابل و واشنگتن به تعداد دو هزار و پنجصد جلد از آن چاپ و جهت مطالعه در اختیار اشتراک کننده های این جرگه قرار خواهد داد.

کابل، رسانه ها:
نجیب امین معاون پالیسی و تخنیکی دارالانشای این کمیسیون به روز دوشنبه در صحبت با رادیو آزادی گفت، هر چند تعداد زیادی از اشتراک کننده های لویه جرگه مشورتی به مسایل حقوقی آگاهی دارند، اما جهت توضیح بهتر متن این مسوده، هشتاد تن از متخصصین حقوق...

(ص ۴)

اسلام آباد کې د حقاني شبکې يو مشر نصيرالدين حقاني ووژل شو

نصيرالدين حقاني په ۲۰۱۰ کال کې د امريکا د بهرنيو چارو وزارت له لورې د ترېوالو ترهگرو په لست کې شامل شو

اسلام اباد، رسنۍ:
له پاکستانه رپوټونه وايي، د حقاني شبکې يو قومندان نصيرالدين حقاني په يوه بريد کې وژل شوی.
رپوټونه وايي، چې ډاکټر نصير الدين حقاني تر ۳۰ کلونو پورته عمر درلود، چې اسلام اباد ته څېرمه په ننبه شو.
پاکستاني رسنيو د ځينو طالب سرچينو په حواله د بناغلي حقاني د وژل کېدو خبر خپور کړی دی.
نصيرالدين حقاني د دغې شبکې يو وتلی قومندان گڼل شوی، چې ويل کيږي د حقاني شبکې د بنسټگر جلال الدين حقاني زوی او د حقاني

(۴ مخ)

مذهبي او سياسي مسئلو زموږ پر درسونو ناوړه اغيز کړی

"محصلين"

کابل، رسنۍ:
د کابل پوهنتون يو شمير محصلين د لوړو زده کړو له وزارت شکايت کوي چې؛ د عاشورا د يوې ورځې مراسمو ته يې دا پوهنتون پنځه ورځې رخصت کړی او ليليه به يې هم د لسو ورځو لپاره تړلې وي.
د کابل د پولي تخنيک پوهنتون محصلين هم د مشورتي لويې جرگې د جوړېدو لپاره د

(۴ مخ)

د ملا فضل الله مشري به څومره د سولې سره مرسته وکړي؟

عبدالله کامه وال (دوهم مخ)

افغانستان و چلنجهای فراراه

فدا محمد فایض

با توجه به اوراق تاریخ، افغانستان در طول تاریخ آماج یورشها و مداخلات بیرونیان قرار گرفته است؛ اما حرف من درین مقال بیشتر بر سر چلنجهای چهار دههٔ گذشته و بصورت مشخص بالای دوازده سال گذشته یعنی بعد از کنفرانس بن اول است.
بعد از سال ۱۳۴۳ که با استعفای داوودخان در ماه حوت ۱۳۴۲، داکتر محمد یوسف بحیث صدراعظم تعیین شد و این اولین بار بود که در نظام سلطنتی دودمان نادری یک کسی بیرون از خانوادهٔ سلطنتی بحیث صدراعظم تعیین میشود به اصطلاح دههٔ دموکراسی یا قانون اساسی آغاز گشت. ...

(ص سوم)

نشست خواهران حزب اسلامی در ولایت بدخشان

به سلسله جلسات و نشست های نوبتی و ماهوار اعضای حزب اسلامی افغانستان اخیراً تعدادی از خواهران حزب اسلامی در فیض آباد مرکز ولایت باستانی بدخشان تشکیل جلسه دادند.
این نشست که در پرتو تصامیم و فیصله های اخیر حزب اسلامی افغانستان تدویر یافته بود، عده‌ای از خواهران حزب اسلامی از نواحی مختلف شهر فیض آباد در آن اشتراک نموده بودند.
نشست ابتدا با تلاوت از آیاتی چند از کلام الله مجید توسط یکی از خواهران آغاز گردید، بعداً مطابق به برنامه کاری جلسه، مسؤول زنان حزب اسلامی در ولایت بدخشان در رابطه به تاریخچه نهضت حزب اسلامی افغانستان در ...

(ص ۳)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د هېواد زعیم ټاکل د هر افغان ایماني او ملي وجیبه ده

ګرانو هېوادوالو ته معلومه ده چې د ورې په (۱۶ مه) نېټه د افغانستان ولسمشریزې ټاکنې ترسره کېږي، د ولسمشرۍ لپاره ټول ولاړ کاندیدان به د ملت رأیو ته رجوع کوي چې هغوی د خپلې خوښې وړ کاندید غوره او د هېواد تر ټولو ستر مسؤولیت ورته په غاړه کړي، دا ټاکنې هله مثمره کېدلې شي چې ولس د خپلې خوښې کاندید د غوره کولو لپاره د رأیو صندوقونو ته لاړ شي او خپله رأیه وکاروي.

ولسمشریزې ټاکنې یواځې په دې مقصد ترسره کېږي چې ملت له خپل هغه حق نه محروم پاتې نشي چې د هېواد د زعامت په غوره کولو کې لري.

په ولسمشریزه ټاکنو کې ګڼ کاندیدان ګډون لري او هر یو همدا هیله لري چې ملت ورته رأی ورکړي، خو دا به هله په واقعي مانا ښه نتیجه ورکړي چې هر عاقل او بالغ افغان په بشپړ ډول خپله رأیه وکاروي او د زعامت وړ شخصیت د اقتدار په مسند کېنوي.

له شک پرته د زعامت په ټاکلو کې د ولس رأی پریکنده رول لري که واقعاً ولس د خپل اسلامي او ایماني مسؤولیت له مخې یو مخلص او با احساسه قیادت وټاکي نو په لومړی ګام کې به یې د هېواد په سلو کې اتیا ستونزې حل کړی وي ځکه چې صالح او ایمانداره قیادت د ملا د تیر حیثیت لري چې هر وخت د درونډ بار د اوچتولو جوګه وي، د یو هېواد قیادت او زعامت چې څومره زیرک، حساس، نبض شناس، عادل، صابر، همدرد، پرهیزګار او په نورو غوره اوصافو سنبال وي ولس هم همغومره له ګټو او ښېګڼو څخه برخمن وي، په ټولټاکنو کې ملت اصلاً خپل برخلیک پخپله ټاکي، کوم ولسونه چې پخپل هېواد کې د یو مثبت بدلون په لټه کې وي هغوی خپل دا هدف صرف په ټولټاکنو کې د خپلو رأیو په کارونې سره ترلاسه کوي.

حزب اسلامي افغانستان چې تل په افغانستان کې د مسلمان او مجاهد ولس د عمومي آراو له لارې د یو منتخب اسلامي حکومت غږ پورته کړی او د هر ډول دیکتاتوري او کودتایي حکومتونو سره مخالفت ښکاره کړې دی له خپل مسلمان او مجاهد ولس نه هیله کوي چې په دې برخلیک ټاکونکي انتخاباتو کې نه یوازې دا چې خپلې رأی وکاروي بلکې له همدا اوس نه د رأیو د کارونې اهمیت هم خلکو ته ورپه ګوته کړي، تر څو ولس په افغانستان کې د تل لپاره له کودتاګانو او په زوره له تپل شویو حکومتونو څخه نجات ترلاسه او هر وخت پخپله خوښه د عمومي ټاکنو له لارې د خپل خوښې شخصیت ته د زعامت د واکې د سپارلو حق ترلاسه کړی، د اسلام له نظره ښه چارواکي هغه دي چې د خپل ولس له خوښې او ملاتړ نه برخمن وي، رعیت له هغوی نه خوښ وي او هغوی له رعیت نه، خو داسې حکومت او زعامت هله منځ ته راتلې شي چې ولس خپله رأی پانه خامخا وکاروي او د خپلې خوښې زعامت په ټاکلو کې خپل ایماني دنده په صحیح معنا ترسره کړي.

د ملا فضل الله مشري به څومره د سولې سره مرسته وکړي؟

عبدالله کامه وال

ملا فضل الله د حکیم الله مسود ځای ناستی ټاکل شوی. مسود چې امریکایي پر سر پنځه میلیونه ډالر انعام ایښی و؛ تیره اونۍ دشمالي وزیرستان په مرکز میرانشاه کې د بې پیلوټه الوتکې په برید کې ووژل شو. داسې ویل کېږي چې حکیم الله مسود د پاکستان د حکومت سره دخبرو لپاره راغلې وو چې دخپلو ملګرو سره سلا مشوره وکړي؛ خو بې پیلوټه الوتکې دبرید ښکار شو، چې د طالبانو په لیکو کې یې یوه لویه تشه رامنځته کړه چې دا څو اونۍ یې د مشرۍ او شورۍ پر ټاکنه یو لړ بحثونه وشو او د مشرۍ لپاره د څو تنو نومونه اخیستل کیده، چې بالاخره تیره اونۍ تر شپږ ورځنۍ غونډې او د پاکستاني او افغاني طالبانو تر سلا مشورو وروسته یې دپنجشنبې په ورځ په پربکنده اکثریت ملا فضل الله خپل مشر او شیخ خالد حقاني دهغه دمرستیال په توګه وټاکه.

داسې ویل کېږي چې د پاکستاني طالبانو نوی مشر د پاکستان دحکومت سره د سولې دخبرو مخالف دی او له پاکستاني حکومت سره د سولې خبرې اترې د وخت ضایع بولي، نوموړی دپاکستان د حکومت سره د خبرو ترخه تجربه لري او نه غواړي د نورو طالب مشرانو په څېر د دسیسو ښکار شي. نوموړی پدې باوري دی چې د پاکستان حکومت پر قبایلي سیمو د امریکا د بې پیلوټه الوتکو دبریدونو د ملاتړ ترڅنګ هغو ته استخباراتي معلومات هم برابروي او د دوی دمشرانو په وژنه کې لاس لري.

د سیاسي چارو کارپوهان پدې عقیده دي چې د پاکستاني طالبانو د مشر په توګه د ملا فضل الله ټاکل به په راتلونکي کې دپاکستان حکومت له ستروننګونو سره مخ کړي، ځکه نوموړی له پخوا راهیسې له پاکستاني حکومت سره د خبرو اترو مخالف و او وخت ناوخت یې پر پاکستاني ملیشو او فوځیانو بریدونه هم کړي دي، چې تر ټولو وروستی او مهم برید یې په تېر سپتمبر کې د پاکستان د فوځ پر مهم مشر تورن جنرال ثناء الله خان و چې د وژلو پړه یې ملا فضل الله پرغاړه یې واخیسته.

مولانا فضل الله هغه توندرو طالب مشر دی چې همیشه یې د پاکستان سره د خبرو سخت مخالفت ښودلې او داسې ویل کېږي چې فضل الله دا ځل هم د خبرو سره مخالف و؛ خو د حکیم الله مسود د زیات ټینګار له امله یې د حکومت سره پر خبرو سر ښوروللی و. چې بایله یې د حکیم الله مسود مرګ شو، فکر کېږي چې د ملا فضل الله محبوبیت او د مشر په توګه د ټاکل کېدو یو علت یې هم د پاکستان سرسخته مخالفت دی. طالبان چې د حکیم الله مسود وژنې سخت په غصه کړي نو د پاکستاني فوځ د غچ اخیستو لپاره یې مولانا فضل الله تر نورو غوره وګڼلو چې دا به د ده په ټاکنه کې تر ټولو مهم فکتور وي؛ ځکه د پاکستاني طالبانو مشرۍ ته تر دې وړاندې نور نومونه هم اخیستل کیدل لکه شیخ خالد حقاني، خان سید چې په سجنا مشهور دی، د اورکزو طالبانو مشر حافظ سعید خان او د مومندو طالبانو مشر عمر خالد خراساني.

د پاکستاني طالبانو نوی مشر ملا فضل الله په سوات کې د نفاذ شریعت محمدي د مشر مولانا صوفي محمد زوم او د سوات د طالبانو د تحریک مشر و، چې په ۲۰۰۸ م کال د خیبر پښتونخوا له ایالتي حکومت سره دا لوظ نامې تر ناکامېدو او په سوات کې د پاکستاني پوځ تر عملیاتو وروسته له سواته وتلی او له سوات نه بهر پر پاکستان د ترورېستي پېښو مشري کوي چې په تېر سپتمبر کې یې په یو بمي برید کې دپاکستاني پوځ تورنجنرال ثناء الله د وژلو پړه پرغاړه واخیسته.

د ملا فضل الله د مرستیال شیخ خالد حقاني په اړه ویل کېږي، چې نوموړی دخیبر پښتونخوا د صوابي اوسېدونکی او د اکوړې په حقانیې مدرسه کې چې د طالبانو یو مهم روزنتون ګڼل کېږي دیني زده کړې کړې دي اوس سؤال دا دی چې د ملا فضل الله مشري به دسولې په راتګ او د جنګ په بندېدو کې څومره مرسته وکړي او بله دا چې ایا ملا فضل الله به د ټولو جنګیالیو کمان پخپل لاس کې وساتلی شي او که نه؛ ځکه د طالبانو په هغه لیکو کې چې په افغانستان کې بریدونه کوي اکثره یې د وزیرستان کې روزل کېږي او له هغه ځایه رهبري کیږي، چې هغه اکثره یې مسود او یا هم د حقاني ډلې پورې تعلق لري او فضل الله د سوات اوسیدونکي او د یو جلا محاذ مشري کړی چې تر ډیره برېده یې دبریدونو تمرکز په پاکستان کې و او بله مهمه پوښتنه داده چې ایا د فضل الله پر ټاکنه به ګنې ټول نظامي قوتونه لکه د مسودو پورې تړلی ډلې پر ځان راټولې کړي او که نه؛ همدا به یې د ویشلو او تیتېدو پیل وي.

افغانستان و چلنجهای ...

(ادامه از صفحه اول)

... درین مدت قانون اساسی جدید تسوید و تصویب و توشیح شد که جای قانون اساسی زمان نادرخان را گرفت. درین دهه که گروه‌های مختلف سیاسی با اندیشه و افکار متفاوت سر برافراشتند. افغانستان آهسته آهسته به آغوش انارشیزم سپرده میشد، یک علت اساسی آن، این بود که قانون احزاب با آنکه از طرف شورای ملی تصویب گردید بنابر دلایلی که تا اکنون معلوم نشد از سوی پادشاه محمد ظاهر شاه توشیح نگردید. براین اساس احزاب مجال یافتند که بدون رعایت چارچوبی که قانون احزاب برای احزاب تعیین کرده بود، فعالیت کنند. تا آنکه احزاب کمونیستی مجال یافتند که علناً بر معتقدات دینی مردم بتازند. بی تفاوتی نظام سلطنتی و گستاخیهای همین افراد منحرف و وابسته به اجانب باعث شد که عده ای از جوانان مسلمان با هم گرد آمدند و اساس یک نهضت اسلامی را گذاشتند. وقتی به شاه از خطرات متوجه از سوی کمونیستها گفته میشد او در جواب میگفت او از ناحیه بیرقهای سرخ نه بلکه از ناحیهٔ بیرقهای سبز احساس خطر میکند. به این ترتیب کمونیستها آنقدر پیش رفتند که بخود شاه هم در دوران تظاهرات شدیدترین توهین را روا میداشتند و حداقل همان حیثیت انسانی او را هم درنظر نمی گرفتند؛ ولی شاه از ناحیهٔ آنها نه؛ بلکه از سوی مبارزین مسلمان تشویش داشت؛ از سوی آنانی که بخاطر حفظ ارزشهای اسلامی و ملی و حفظ استقلال کشور مبارزه میکردند.

دههٔ دموکراسی شاه، افغانستان را به جمهوریت داوودخان سپرد، دوره یی که حیثیت یک پل بین نظام سلطنتی و حاکمیت حزب دموکراتیک خلق را ایفا کرد. داوودخان عقده داشت و میخواست از هر راه ممکن عقده های خود در برابر شاه را هموار کند، از همین جهت او میخواست از برخی اعضای نظامی حزب دموکراتیک بنفع خود استفاده کند؛ ولی اوخود بدام «کا جی بی» افتاد.

دورهٔ کمونیستی، افغانستان را به دهن اژدهای کمونیزم انداخت که شرح جنایاتی که کمونیستها انجام دادند، مثنوی هفت من میخواهد، تا بالآخره در اثر مجاهدتها و رشادتهای ملت مجاهد افغانستان پیش از آنکه حکومت حزب دموکراتیک سقوط کند، باداران شان سقوط کردند و بدین ترتیب بعد از شکست امپراطوری بریتانیا در برابر ملت مجاهد افغان در ۱۹۱۹ بزرگترین حادثهٔ قرن بیستم بوقوع پیوست و تاج افتخار شکستاندن امپراتوری سرخ را هم خداوند جلت مجده بر سر ملت افغان نهاد.

متأسفانه مجاهدین افغان بعد از سقوط نظام کمونیستی داکتر نجیب به اثر توطیه های مشترک منطقوی و جهانی، با چلنجهایی مواجه گردیدند که آن هم شرح مبسوط میخواهد و درین نوشتهٔ کوتاه مجال آن نیست؛ ولی انصاف نخواهد بود که کاستیهای خودمان را هم نادیده بگیریم.

دورهٔ بعد از مجاهدین. افغانستان را با چلنج های بیشتر مواجه ساخت تا آنکه امریکا و ناتو بهانه یی برای آمدن خود به افغانستان را بدست آوردند. در کنفرانس بن (۲۰۰۱) یک اساس خوبتر و بهتر برای فردای افغانستان گذاشته نشد و متأسفانه این کار عمداً صورت گرفت. افغانستان بعد از کنفرانس آنچنان که بعضی ها توقع میکردند به آغوش چلنج‌های متعدد سپرده شد. روزنامهٔ اقتصادی «همیانی» در شمارهٔ مؤرخ ۲۰/۸/۱۳۹۲ به نقل از روزنامهٔ واشنگتن تایمز می نویسد: حضور امریکا در افغانستان با رشد اقتصادی این کشور کمک نکرده است، داکتر مایکل شینک در مقالهٔ یاد شده خود بالای استراتیژی امریکا، مصارف، حساب دهی و جلب اعتماد مردم انتقادهای شدیدی صورت گرفته است. درین مقاله همچنان آمده است که به تجارت، فرصتهای کاری، بمیان آوردن بازارهای فعال، مکاتب و شفاخانه ها و خدمات صحی توجه لازم صورت نگرفته است.

نویسندهٔ مقاله می افزاید امریکا می توانست با مصارف کمتر از آنچه صورت گرفت، مشکلات افغانها را حل کند. در مقاله همچنان به نبود آب صحی آشامیدنی و نبود برق نیز اشاراتی رفته است. درین مقاله افزوده شده که امریکاییها خود در افغانستان، در فساد بزرگ دخیل هستند. نویسندهٔ مقاله می افزاید اگر امریکا واقعاً نمیخواهد افغانستان بعد از خروج نیروهای خارجی از آن کشور بسوی بحران برود، مصارف یک دههٔ نظامی خود را که کم و بیش ده میلیارد دالر میشود به چند پروژهٔ انکشافی ملی اختصاص دهد. نویسنده در پایان از قصر سفید میخواهد از اشتباهات خود درس گرفته و بجای دوام حضور نظامی در افغانستان با افغانستان کمکهای اقتصادی بکند.

ما که خود در کشور خود زندگی میکنیم می بینیم که:

*** افغانستان در بخش اقتصادی پیشرفت قابل ملاحظه یی نکرد.**

*** فساد اداری به اوجش رسید که خارجیها خود درین فساد ید طولا دارند.**

*** کشت، تولید و قاچاق مواد مخدر به حد سرسام آور آن رشد نموده.**

*** بجای آنکه صلح در کشور ما تأمین شود، جلو صلح گرفته میشود، متأسفانه یک عده شخصیتهای ما که برای صلح کار میکردند از سر راه برداشته شدند و به این ترتیب جنگ با گذشت هر روز در کشور ما اوج میگیرد.**

*** مداخلات کشورهای همسایه با گذشت هر روز قوت بیشتر میگیرد.**

*** وحدت ملی ما بیش از حد متضرر شد حتی تا جایی که برخلاف حکم قانون اساسی یک عده مخالفت میورزند که نباید نام افغان در تذکره تابعیت ذکر شود در حالی که در قانون اساسی هر تبعهٔ افغانستان «افغان» خوانده شده و این نام یک نام عمومی است نه قومی که حقوق اقوام دیگر نادیده گرفته شده باشد.**

*** اقتصاد کشور ما آنچنان که در سطور گذشته به آن اشاره شد، هنوز خیلی دور از آن است، که جوابگوی نیازمندیهای کشور ما باشد.**

*** فضای بی اعتمادی روز به روز قوت میگیرد درحالی که ما به یک اخوت اسلامی نیازمند هستیم.**

*** هنوز هم مریضان ما برای تداوی بیماریهای بسیار ابتدای هم نیازمند رفتن به کشورهای همسایه و منطقه هستند که این امر از توان هر خانواده پوره نیست.**

*** در حالی که خود ما بیشترین آب در منطقه را داریم دولت ما مجبور میشود از کشورهای همسایه برق وارد کند.**

و مانند این ده‌ها چلنج دیگر که به آن مواجه هستیم؛ ولی چلنج بسیار عمده یی که برای افغانستان خطرات زیادی را در پی دارد تلاش برای باقی ماندن درازمدت نیروهای بیرونی در کشور ما و احداث پایگاه های نظامی است. این در حالی است که براساس درز کردن یک سند اشد محرم از سفارت افغانستان در واشنگتن (۴/۱۰/۲۰۱۳) امریکا حاضر نیست شرایط افغانستان را بپذیرد، در حالی که اینک ما در هفتهٔ آینده شاهد تدویر یک لویه جرگهٔ مشورتی به ارتباط پیمان امنیتی با امریکا خواهیم بود. گرچه هنوز قبل از وقت خواهد بود که در مورد مشوره های این جرگه چیزی بگوییم؛ ولی اظهاراتی را که رسانه ها از قول گردانندگان این جرگه کردند، معلوم است که جرگه بخاطر چه منظور فراخوانده شده است. فقط بخاطر انداختن بار ملامتی بر دوش ملت. طبیعی است که به این جرگه هم کسانی دعوت شده خواهند بود که آنچه دولت میخواهد همان را به تصویب برساند.

با کمال تأسف با آنکه از یک طرف کشور ما با چلنج های متعدد مواجه است، شیرازهٔ وحدت ملی تا حد زیادی آسیب دیده است، افغانستان بحران زده بخصوص بعد از ۲۰۰۱ به یک دولت نیرومند، مصمم و قاطع متشکل از افراد غیر آلوده در فسادهای گوناگون نیاز داشت. ولی جامعهٔ جهانی عمداً نخواست افغانستان دارای چنین دولتی باشد. ما قوانین داریم؛ ولی نسبت ضعف دستگاه دولت قانون تطبیق شده نتوانست و ما هنوز هم براه تطبیق قانون و حاکمیت قانون منزل زیادی پیش رو داریم.

نشست خواهران حزب اسلامی ...

سال ۱۳۴۸ در یک مجمع علمی و پوهنتونی توسط تعدادی از جوانان با احساس، مسلمان، مؤمن و مبارز و برادران ما و شما که سن شان بیشتر از ما و شما نبود، که در آن سالها در برابر عملکردها و حرکت های غیر اسلامی افراد بی دین و کمونیست قرار گرفته بودند، با درک مسؤولیت های اسلامی با هم در مسجد لیلیه پوهنتون کابل به تبادل نظر پرداختند و در نتیجه به تشکیل نهضت جوانان مسلمان افغانستان (حزب اسلامی افغانستان) همت گماشتند. از اسلام و معنویات آن در مقابل کفر و الحاد به دفاع برخاستند. و در نهاست جانهای شیرین شان را در راه اسلام و تحقق اهداف این مکتب (که امروز میلیونها جوان پسر و دختر عضویت پرافتخار آن را کمایی کرده اند) نثار و قربان کردند و از خود حماسه ها آفریدند. و در صدد جلوگیری از نفوذ افکار الحادی و استعماری مارکسیسم - لینینیسم شدند. بدون شک سپردن اندیشه های مارکسیزم و لینینزم در گودال تاریخ در افغانستان و جهان محصول دست و همت والای اسلامی و توحیدی همان پیشتازان و پروانه گان راه توحید و اسلام است، حسرتا! اکثری از آن پیشتازان و قامت رساها ذریعه دژخیمان و جلادان تاریخ و حکومات جابر، مستبد و کاسه لیسان مکتب مارکس ولینن در پهلوی هزارها جوان دارای عقیده توحیدی در به جوخهٔ اعدام سپرده شوند. روح شان شاد و یاد شان گرامی!

همچنان مسؤول زنان حزب اسلامی این ولایت اضافه کرد: اگر آن برادران به خون خفته ما در آن مقطع از تاریخ، تهداب چنین مکتب توحیدی و اسلامی را نمی گذاشتند ما شاهد ویرانی و انهدام دیوارهای لرزان و بی بنیاد کمونیزم و مائوئیزم در افغانستان و جهان نمی بودیم.

امروز مسؤولیت اسلامی و ایمانی ما خواهران است تا در پهلوی برادرهای خود بایستیم و صفوف برادران مسلمان خود را مستحکم و پایدار سازیم و در برآورده شدن اهداف و آرزوهای شهدای راه اسلام که همانا ساختن نظام عدل الهی است در حد توان بکوشیم.

به همین ارتباط تعدادی از خواهران حزب اسلامی در رابطه به وحدت و یک پارچه گی اخیر حزب اسلامی افغانستان، جمعیت اسلامی و وحدت اسلامی که بی مبالغه از احزاب قوی، مطرح و بزرگ اسلامی در افغانستان می باشند و همه دارای اهداف، مرام و اندیشه های واحد و مشترک هستند و آرزوی جز پیاده و حاکم ساختن مکتب توحید و قرآن، در حیات سیاسی، اجتماعی و اقتصادی در افغانستان ندارند، صحبت های مفصل و همه جانبه نموده، آنرا یک عمل و گام نیک اسلامی در شرایط فعلی لازم و ضروری داشته و خواستار گسترش و یک پارچه گی هر چه بیشتر جمله دین دوستان و مبارزان راه اسلام شدند. محفل با دعای خیر و فلاح و رستگاری جمله مسلمین و پیروزی حق بر باطل و خوشحالی اینکه اتحاد مسلمانها و یک پارچه گی شان پیروزی مسلمانها می باشد، به پایان رسید.

د چلنجونو مقابله صمیم عزم غواړي

محمد خلیل

په دې کې هیڅ شک نشته چې د افغانستان مسلمان ولس له ډول ډول چلنجونو او ازمیښتونو سره لاس او گریوان دی خو له دې واقعیت نه هم سترگې نشي پټېدلې چې د تاریخ په اوږدو کې د نړۍ نور انسانان هم له سترو سترو ننگونو او چلنجونو سره مخامخ شویدي، مگر د خپل همت، قوي عزم، ښه پلان او ښه مدیریت په برکت نه یوازې دا چې له چلنجونو څخه یې خلاصون ترلاسه کړی بلکې د ژوند په هر ډگر کې یې د لیدو وړ پرمختگ هم کړی او له خوښیو نه هم برخمن شویدي.

که موږ د نننۍ زمانې پرمختللي هېوادونه تر څېړنې او مطالعې لاندې ونیسو نو دا حقیقت به وموو چې هغوی د افغانستان د وگړو له چلنجونو څخه له زیاتو چلنجونو سره مخامخ شوي او ډېر لوی لوی ځاني او مالي تاوانونه یې گاللي دي.

الله تعالی انسان ته ډېر قوي دماغ او زبردسته پوهه ورکړې ده، په انساني مسایلو کې چې هر وخت وغواړي د خپل ریښتوني زیار او اخلاص په برکت کولې شي ستره بریا ترلاسه کړي؛ ځکه خو د کایناتو خالق انسان ته خبرداري ورکړی چې تر څو پورې یو قوم د خپل حالت د بدلولو اراده پخپله ونکړي الله تعالی دهغوی د حالت د بدلولو اراده نه کوي، لکه څنگه چې الله تعالی انسانانو ته د کرکیلې او صنعتي کارونو د ترسره کولو پر ته خوراکي څیزونه د ژوند نور توکي دهغوی کورو ته نه دننه کوي همداسې له هغو چلنجونو او نورو مسایلو څخه یې هم نه خلاصوي چې پخپله د انسانانو په واک کې دي، که موږ له واقعیت نه تېښته ونکړو او د راپېښو چلنجونو اصلي جرړې ولټوو نو تر شا یې زموږ خپل لاسونه دي او همدا موږ ددغو غټو چلنجونو مسؤول یو. د مثال په ډول اتفاق، ورورولي، له خپل ولس او خاورې سره مینه، پخپلو دندو کې صداقت، امانتداري، دیانت، عدالت، همدردي او ښه نیت زموږ د ټولو افغانانو اسلامي او ایماني وجیبه ده؛ مگر متأسفانه خپله دا وجیبه مو قصداً پرېښې او برعکس روان یو. په دې هېواد کې چې څومره کړاوونه او چلنجونه تر سترگو کېږي ددې ټولو ستر لاملونه همدا زموږ بې مسؤولیتي او غفلتونه دي چې کله هم خپل مسؤولیتونو ته متوجه شوو او د غفلت خپسه له ځانه لیرې کړو نو شته چلنجونه به یو یو داسې له منځه لاړې شي لکه چې د ملاریا د گولیو په خوړلو سره د ملاریا تبه له منځه ځي. هر افغان په دې خبره ښه پوهېږي چې بې اتفاقي بې عدالتي، بې ایماني، بد دیانتي او ددې په څېر لسگونه نور ناوړه کړنې د ټولو بدبختیو اصلي جرړې دي او د سرطان د دانې په څېر د انساني ټولنې ټول اړخونه ناکاره کوي؛ مگر له بده مرغه په هر څه د پوهېدو سره سره بیا هم له دغو ناوړو کارونو څخه د لاس په سر کېدو پرځای لگیا دي په پوره ځواک یې ترسره کوي. د افغانستان د وگړو د ستونزو او چلنجونو اصلي علتونه هم بالکل څرگند او تشخیص شوي او درملنه یې هم موجوده ده؛ خو پر خپلو هوسونو او شخصي گټو د پښو اېښودلو غیرت لا په جوش نه دی راغلې چې کله هم دا غیرت په جوش راشي او هر افغان په ځانگړې ډول سیاسي مشران او لوړ پوړي چارواکي د خپلو لویي غوښتنو او شخصي گټو څخه د تېرېدو قرباني ورکړي نو هر لوري به د خوشحالیو پسرلې خپلې وزرې وغوړوي.

له دغو چلنجونو څخه د راوتلو یوه مؤثره لاره دا هم ده چې د افغانستان مسلمان ولس په هر کس او ناکس پسې لاړ نشي؛ بلکې په یوه داسې قائد او مشر پسې لاړ شي چې هغه واقعاً د مشرتابه اهلیت لري، د خپلو شخصي گټو او لویي غوښتنو پرځای د خپل ولس، خاورې، عقیدې او کلتور خدمتکار وي، هر وخت د ازمېښت په ډگر کې بریالې وي او هر څه یې د هېواد او ولس د خیر ښېگړې لپاره وقف کړې وي. که چېرته افغانان د قومي تعصبونو پر بنسټ د جوړو شویو قیادتونو د اتباع پرځای پر اسلامي او ملي بنسټ جوړ شوي قیادت ملاتړ وکړي او د خپل هېواد د خدمت لپاره په بشپړ اخلاص او دیانت د عمل ډگر ته ودانگي نو په سلو کې سل شوني ده چې شته چلنجونه او کړاوونه په ډېره لږه موده کې ختم او افغانان هم د نورو پرمختللو هېوادو په څېر د امن او سرلوړي ژوند خاوندان شي، که نه؛ نو خدای مه کړه لدېنه له بد حالت سره هم مخامخ کېدای شو.

شهادت اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان تبلیغاتي ارگان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي څانگه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي بوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شانه، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

امریکا غواړي د لویې جرگې له ...

... داسې اطلاعات موږ ته رارسېدلي چې؛ په دې جرگه کې به د تړون نه علاوه لکه د انتخاباتو په څنډېدو او داسې نورو هم خبرې وشي؛ موږ پرته له امنیتي تړون څخه د جرگې په جنډا نور څه نه منو."

ټاکل شوې ده چې د امریکا او افغانستان ترمنځ د امنیتي او دفاعي تړون لاسلیک کېدو نه، د رواني لمریزې میاشتې په وروستیو کې په کابل کې مشورتي لویه جرگه جوړه شي.

د جرگې د مسوولینو د معلوماتو له مخې په دې جرگه کې به د هېواد د ټولو ولایتونو شاوخوا دوه زره پنځه ته گډون وکړي.

بل خوا ازادي راډیو د مشورتي لویې جرگې د ترکیب او اجنډا په اړه د ملي شورا د یو شمېر غړیو اندیښنې د دې جرگې د جوړېدو له کمیسیون سره شریکې کړي.

د مشورتي لویې جرگې د جوړېدو د کمیسون ویاند عبدالخالق حسیني پښه یې وویل؛ د مشورتي لویې جرگې د ترکیب او اجنډا په هکله د ملي شورا د یو شمېر غړیو اندیښنې، مخکې له وخته او بوازې شک کول دي:

"کله چې دوه زره او پنځه کسان جرگې ته راغلل او افتتاحیه وینا ختمه شوه، دوی به په ازاده توگه د رای گیری په ډول د جرگې رییس، مرستیالان او منشیان ټاکي.

زه خلکو ته داډ ورکوم چې، د دې جرگې بوازینی موضوع له امریکا سره د امنیتي تړون په لاسلیک خبرې او مشورې کول دي او بس."

د مشورتي لویې جرگې په هکله اندیښنې په داسې حال پیدا شوي چې؛ څو ورځې مخکې د دې جرگې د جوړېدو د کمیسیون رییس حضرت صبغت اله مجددي ویلي وو چې؛ د دې جرگې جوړېدل ضروري نه و.

هغه ویلي وو چې، جمهور رییس د جرگې له جوړېدو پرته هم دا تړون لاسلیک کولای شو.

سربېره پردې د ولسي جرگې ځینې غړي وایي؛ له امریکا سره د افغانستان د امنیتي تړون لاسلیک کېدو ته بوازې د ملي شورا پرېکړې کافي وي.

خو د مشورتي لویې جرگې مسولین وایي، د هېواد جمهوررییس قانوني صلاحیت لري چې؛ د ملي گټو په خاطر له یو بل هېواد سره د تړونونو لاسلیک کېدو ته د خلکو نظر او مشورې واخلي.

بریتانیا عساکر افغان را مانند ...

... تا چند سال دیگر افغانستان در سطح جهان یک اردوی بی نظیر خواهد داشت:

"امیدوار هستیم چیزی را که این ها از لحاظ فهم و دانش به اختیار ما می گذارند از آن استفاده درست بکنیم و به انتظار روزی می باشیم که افسران جوان فارغ اکادمی شوند و در چهره آنها افغانستان قوی تری را ببینیم. از کمک و مساعدت به موقع و خوب انگلستان تشکر می کنم و مطمین هستم که آنها به همان خوبی که افسر پاکستان تربیه کردند، نیروهای ما را هم تربیه بدهند و بهتر از آن هم آرزوی ما است."

به اساس گزارش ها هند و پاکستان دو کشوری اند که اردوی شان توسط بریتانیا آموزش داده شده است.

به گفته وزارت دفاع، موافقتنامه ایجاد اکادمی افسران اردوی افغانستان در سال ۱۳۹۱ میان مقام های افغان و بریتانیایی به امضا رسید و در نزدهم میزان همان سال، سنگ تهداب آن گذاشته شد.

این اکادمی در بیستم عقرب سال ۱۳۹۲ یعنی روز دوشنبه، اولین دور آموزشی اش را به اشتراک دو صد و هفتاد محصل آغاز کرد.

وزارت دفاع افغانستان می گوید که اکادمی افسران اردو معادل اکادمی سن هارس بریتانیا بوده و در چوکات پوهنتون ملی دفاع افغانستان، فعالیت می کند.

قرارگاه، پنج دیپارتمنت، سه کندک محصلین، یک تولی اناثیه و یک مرکز پزیرش از جمله امکانات اند که در این اکادمی برای محصلان، فراهم شده اند.

هم چنان گفته می شود که دوره های تحصیلی اکادمی یک ساله می باشد و حدود ۱۲۶ مربی از انگلستان و برخی از کشورهای دیگر جهان در آموزش سربازان افغان سهم می گیرند.

در عین حال فلیپ هاموند وزیر دفاع بریتانیا در محفل که به همین مناسبت دایر شده بود، ایجاد این اکادمی را فصل تازه از روابط شان با افغانستان عنوان کرد:

"این یک موقع تاریخی است، در چند سال اخیر اردوی افغان و نیروهای آیساف دوشادوش هم کار کردند، افتتاح این اکادمی نمایانگر آغاز یک فصل جدید در روابط ما خواهد بود، افسران کشورهای انگلستان، آسترالیا، زیلاند جدید و ناروی که در اینجا حضور دارند، چشم به راه اند تا با همکاران افغان خود در اکادمی نظامی اردوی افغانستان به فعالیت های خوش در عرصه آموزش نسل آینده اردوی افغان ادامه بدهند تا بتوانیم این اکادمی را منحیث میراث دایمی قربانی های مشترک پابرجا نگهداریم و بتوانیم مایه امیدواری برای آینده افغانستان گردیم."

مسوولان می گویند که آنها می کوشند در این اکادمی به سربازان و افسران اردوی افغان زمینه کسب آموزش های معیاری را فراهم بکنند.

در حال حاضر بیش از پانزده مکتب مسلکی در خصوص آموزش و تربیه اردوی ملی در کشور وجود دارند.

امین الله کریم قوماندان پوهنتون ملی دفاع افغانستان می گوید که دراین پوهنتون همه روزه حدود شش تا هفت هزار محصل درس می خوانند.

وی ابراز امیدواری کرد که با تداوم همچون برنامه ها سطح کیفیت و ظرفیت در اردو افغانستان بهبود یابد.

هشتاد حقوقدان به لویه جرگه ...

به این جرگه دعوت شده اند:

"یک کتگوری حقوقدانان به تعداد هشتاد نفر جهت توضیح متن مسوده قرار داد امنیتی در نظر گرفته شده جای نگرانی وجود ندارد در چهل و هشت کمیته کاری که حدود پنجاه نفر دارد ممکن دو حقوقدان وجود داشته باشند و در مجموع اشتراک کننده ها نیز آگاهی حقوقی دارند و هیچ تشویشی در این خصوص وجود ندارد."

آقای امین گفت که تا کنون مشخص نشده است که مسوده این قرارداد چه زمانی از سوی شورای امنیت ملی در اختیار کمیسیون برگزاری لویه جرگه مشورتی قرار داده می شود.

در نشست روز یکشنبه شورای امنیت ملی گفته شد که متن مسوده قرارداد امنیتی و دفاعی میان کابل و واشنگتن به لسان های پشتو، دری و انگلیسی آماده شده است.

شورای امنیت ملی فیصله کرد که این مسوده به شکل یک کتابچه واحد هر چه زود تر به زبان های ملی کشور طبع و در اختیار تمام اشتراک کننده های لویه جرگه مشورتی قرار داده شود.

در عین حال شماری از کارشناسان از گماشتن حقوقدانان جهت توضیح ماده های مسوده قرارداد امنیتی و دفاعی میان کابل و واشنگتن استقبال می کنند.

اجمل هودمن یکی از این کارشناسان آگاهی دهی حقوقی در این خصوص را موثر دانسته و روی تعیین افراد مسلکی در این بخش تاکید می ورزد.

"سند همکاری های امنیتی در اصل یک سند حقوقی است و مهم است از نگاه حقوقی منافع

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

"بریتانوي خوردضابط ته دې سخته سزا ورکړ شي"

ابزرور (The Observer) خپرونې د هغه بریتانوي خوردضابط په اړه مقاله خپره کړې چې؛ په هلمند کې د یوه زخمي وسله والو د وژلو په جرم محاکمه شو.

خپرونه وايي، د بریتانیې د وسله والو ځواکونو یوه پخواني مشر دې خورد ضابط ته د تر ټولو شدیدې سزا غوښتنه کړې ده.

د بریتانیې د پوځ پخواني قوماندان لارد گوترې د بریتانیې د شاهي سمندري ځواکونو د عسکر لپاره د عفوې د غوښتنو مخالفت کړی.

ده د یکشنبې په ورځ یې ابزرور خپرونې ته ویلي: قتل، قتل دی. دې عسکر ته باید شدیده سزا ورکړه شي.

لارد گوترې زیاته کړې، بریتانوي عسکر ان که د جگړې تر فشارلاندې فعالیت کوي، باید د قانون په وړاندې مستثنی ونه گڼل شي.

خو د بریتانیې چاپ بلې ورځپاڼې، ټلیگراف (The Telegraph) په ورته مساله په یوه مقاله کې د لوړ رتبه بریتانوي پوځي چارواکو په حواله لیکلي، د دې خورد ضابط د محاکمې په وخت کې باید دېته پام وشي چې؛ بریتانوي ځواکونو په هلمند کې د جگړې تر شدید فشار لاندې فعالیت کاوه.

ورځپاڼې د بریتانیې د پخواني پوځي جنرال جولیان تامپسن دا خبره راخیستې چې؛ په هلمند کې د دوی د سمندري ځواکونو د خورد ضابط کار د عفوې وړنه دی خو د هغه لپاره د سزا په ټاکلو کې نرمښت به مناسب وي.

په مقابل کې یې د بریتانیې د وسله والو ځواکونو قوماندان جنرال نیک هوگټون ویلي، د وسله والو طالبانو د زخمي وژل وحشتناک جرم دی او هغه خورد ضابط ته چې دا زخمي یې وژلی، د عفوې کول به غلط کار وي.

ټلیگراف د بریتانیې د پوځي ځواکونو د قوماندان په حواله لیکلي: د دې خورد ضابط عفوه کول به هغه اخلاقي برلاسي چې موږ یې پر دښمن لرو، تخریب کړي.

بریتانوي ورځپاڼو تېره اونۍ خبر ورکړ چې؛ د سمندري ځواکونو یو خورد ضابط په هلمند کې د وسله والو طالبانو د یوه زخمي د وژلو په خاطر محاکمه شو.

رپوټونه وایي چې؛ پېښه په ۲۰۱۱ میلادي کال کې شوې وه.

دا اول وار دی چې؛ یو بریتانوی عسکر د افغانستان او عراق په جگړه کې، د قتل په تور محاکمه او مجرم پېژندل کېږي.

دی په ابدي حبس محکومېدلای شي او حکم به یې راتلونکې میاشت اعلان شي.

ټلیگراف ورځپاڼه په یوه بل مطلب کې د یوه بریتانوي عسکر د ژوند کیسه کړې چې د افغانستان په جگړه کې یې دواړې پښې او یو لاس پرې شوو.

ټلیگراف ورځپاڼې په یوه بله مقاله کې د هغه بریتانوي عسکر د ژوند کیسه کړې چې د افغانستان په جگړه کې په ماین الوتی وو.

ورځپاڼه لیکي، اندي ریډ په مالین الوتی وو، غبرگې پښې او یو لاس یې پرې شوي دي.

اندي اوس غواړي چې؛ خپل ماشوم زوی ته دا وروزده کړي چې څرنگه د ژوند او راتلونکې په اړه مثبت فکر وکړي، اندي ویلي: "زه باید ژوند وکړم او خوشبین وه اوسم. اوس خبره یوازې زما د راتلونکې نه ده. که زما زوي، ویلیم، وگوري چې پلار یې هر وخت شکایت کوي او مایوس دی نو د هغه اینده به څه شي وي؟"

بریتانوي عسکر اندي ریډ زیاتوي، څو شپې مخکې یې د خپل یو کلن زوی لپاره یو لیک لیکلي چې؛ خپله ټوله کیسه یې په کې کړې ده.

اندي د دې لیک په یوه برخه کې لیکلي: پلار د بدو خلکو د پیدا کولو لپاره گرمه کوله، په ماین وخوت، لویه چاودنه وشوه، خاورې هوا ته پورته شوې او فضا د دوړو څخه ډکه شوه.

افغانستان در آن مد نظر گرفته شود و همچنان مهم است که حقوقدانان در لویه جرگه حضور داشته باشند. در هر کمیته اگر ما سه یا چهار حقوقدان داشته باشیم، فکر کنم کار آسانتر می شود و آنها به آسانی می توانند با سایر اعضای کمیته ها کمک کنند."

قرار است در هفته اخیر ماه عقرب، لویه جرگه مشورتی به اشتراک دو هزار و پنجصد تن به هدف اتخاذ فیصله نهایی در خصوص امضای توافقنامه امنیتی و دفاعی میان کابل و واشنگتن در شهر کابل برگزار گردد.

هر چند مقام های افغان و امریکایی به یک سلسله توافقات در خصوص امضای قرارداد امنیتی و دفاعی دست یافته اند، اما دو طرف در ارتباط به مصونیت قضایی سربازان امریکایی که پس از سال ۲۰۱۴ در افغانستان باقی می مانند، به توافق نرسیده اند.

رییس جمهور کرزی گفته است که نمایندگان مردم افغانستان در لویه جرگه مشورتی در این خصوص تصمیم خواهند گرفت.

اسلام آباد کې د حقاني شبکې یو...

شبکې مالي سرچینه کې یو وتلی سړی و.

راپوروونه وایي، چې د حقاني مړی د افغانستان بولې ته څېرمه د شمالي وزیرستان قبایلي سیمو ته د خښولو لپاره وړل شوی دی.

نصیرالدین حقاني په ۲۰۱۰ کال د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ترېوالو ترهگرو لست کې شامل شو.

په ځینو رپوټونو کې ویل شوي، چې نصیرالدین حقاني منځني اسیا کې له القاعدې شبکې سره نژدې اړیکې لرل.

د افغانستان حکومت او امریکا د حقاني شبکه په هېواد کې د نه پر کورنیو او بهرنیو ځواکونو د بریدونو اصلي طراحه بولي.

په افغانستان کې پر لوېدیځو ځواکونو او د هغوی پرپنځونو او ادارو د "ډېرو پېچلو خانمرگو بریدونو" د پړې گوته نیغ په نیغه د حقاني شبکې ته نیول شوې ده.

که څه هم دغه شبکه د عملیاتو له اړخه جلا کار کوي، خو قوماندانانو یې څو-څو ځلې ملا محمد عمر خپل اصلي مشر بللی دی.

تر اوسه د حقاني د وژلو د څرنگوالي په اړه جزییات نه دي ورکړل شوي، خو ځینې رپوټونه وایي، چې نوموړی په ډزو او تښتنه کې وژل شوی.

دغه پېښه اسلام اباد ته څېرمه راولپنډۍ ښار کې د تېرې یکشنبې پر شپه شوې.

د حقاني یو بل وررور بدرالدین، چې د حقاني شبکې د عملیاتي ډلې مشر و، د تېر کال اگست کې د امریکا خارگرو الوتکو وواژه.

د نصیرالدین مشر وررور، سراج الدین حقاني اوس د دغې ډلې مشري کوي.

رپوټونه وایي، چې نصیرالدین حقاني څو ځلې منځني ته د القاعدې شبکې د همکارۍ جلبولو لپاره سفرونه کړي، او په قطر کې د طالبانو لپاره د سیاسي دفتر په جوړېدا کې هم نوموړي ډېر رول درلود.

سراج الدین حقاني، بدرالدین او نصیرالدین د مخکني افغان جهادي مشر او د حقاني شبکې د بنسټگر مولوي جلال الدین حقاني زامن دي. تر اوسه د نصیرالدین حقاني د وژلو پړه چا پر غاړه نه ده اخیستې.

د حقاني شبکې یوې سرچینې ویلي چې نصیرالدین حقاني د حقاني شبکې د مالي، لوژستیکي او سیاسي چارو مسؤول و.

نوموړی د طالبانو د سولې د خبرو پرمهال هم له طالب جگېوړ چارواکو سره مشورې کولې.

د پېښې په ځای کې د یوه شخصي نبوونځي مشر ډاکټر امجد وویل کله چې وسله والو پر نصیرالدین ډزې وکړې "کله چې زه نژدې ورغلم، نو له هغه سره په گاډي کې راغلي کس مارکیټ کې له نورو خلکو وغوښتل چې ژوبل کس ورسره گاډي کې ځای پرځای کړي".

مذهبي او سیاسي مسالو زموږ پر...

خلور میاشتو لپاره رخصت کړای شوي دي.

د کابل پوهنتون یو شمیر محصلین شکایتونو کوي چې؛ د مذهبي مراسمو او یا خپلو سیاسي کارونو لپاره پرله پسې رخصتي یې په درسونو ناوړه اغیزه کوي.

دوي وایي، د لوړو زده کړو وزارت د عاشورې د یوې ورځې لپاره کابل پوهنتون پنځه ورځې رخصت کړی او وېره لري چې هسې نه د مشورتي لویې جرگې لپاره دا رخصتي تر حوت میاشتې اوږده شي.

ظاهراً داسې ښکاري چې حکومت کابل پوهنتون د عاشور په مراسمو کې د احتمالي گډوډۍ د مخنیوي لپاره رخصت کړي وي.

تیر کال د کابل پوهنتون په لیلیې کې د عاشورا د مراسمو د لمانځنې له کبله د محصلینو ترمنځ شخړه وشوه او درېیو محصلینو ته یې مرگ ژوبله واوښته.

د کابل پوهنتون ځینې استادان وایي؛ د دې ډول پېښو مخنیوی په ډېره ساده طریقه سره کېدای شي، نه دا چې د یوه حل کېدونکې مشکل لپاره پوهنتونونه رخصت کړای شي.

د دې پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي استاد پوهنوال احمد شاه زغم وویل چې؛ دغه رخصتي کېدای شي د عاشور په بهانه د لویې مشورتي جوړېدونکې جرگې لپاره یوه میاشت اوږده کړای شي.

په همدې حال کې د کابل د پولي تخنیک پوهنتون استادان او محصلین شکایت کوي له امریکا سره پر امنیتي تړون د جوړېدونکې لویې جرگې لپاره د پولیتخنیک پوهنتون د عقرب له لسمې د حوت تر پنځلسمې پورې رخصت شوی.

د محصلینو او استادانو ددې انتقادونو په ځواب کې د لوړو زده کړو د وزارت چارواکو له څه ویلو ډډه وکړه.

خو ددې وزارت یوه مسوول د نوم د نه خپرېدو په شرط ازادی راډیو ته وویل کابل پوهنتون محصلین په موقت ډول رخصت شوي او سر له شنبې څخه به یې درسونه په منظم ډول پیل شي،خو د پولي تخنیک د محصلینو د ستونزو په اړه یې تبصره ونه کړه.